# د افغانستان طبيعي سرچينې

محمد انور وليد : ۱۳۹۷ لمريزکال ـ د وري ۲۵ مه

درېيمه برخه :

## B: ـ د پولی ارزښت (اقتصاد) برخه :

دريېم :ــ ځمکنۍ زېرمې ( پلاټينيم ، يورانيم ، الماس ، تورملين ، لاجورد ، زمرُد ، طلا، مس ، سپين زر، کروم ، الياژ، اوسپنه ، ډبروسکاره ، ګرافيک ، مالګه ، د کرامايت اوسپينوډبروکانونه ، پطروليم اود تېلوحوزې او نورمعدني مواد ) :




**دافغانستان ځمکني اوهوايي اقتصادي شارګونه :**

**د افغانستان ځمکني اوهوايي شارګونه ، د کورني اقتصادي پياوړتيا ، اقتصادي پلانونوجوړولوړ، پلي کېدو، ځمکنيو او هوايي ترانزيتي لارو، اوسپنيزه رېل پټليو ، د توليد ، صنعت او بازارموندنې له پاره ( عرضې او تقاضاْ ) وړاندې کولواو توريزم ته اړتيا لري ، لازمه ده چي له خپلو ملي موخو سره سم مطلوبه پايلې ور باندې ترلاسه شي .**

افغانستان د ټولو افغانانوګډ کوراويوه داسې پېژندل شوې جغرافيه ده چي ټولـه نړۍ يې پـه خپـل سترا تېژيـک موقعيت سره ترلي اوهرڅوک د آسيا په وچه کي له همدې کانال څخه د تاريخي ثبوت وړاندې کولو په توګه دخپل عبوراومرورپه هڅه کي

دي ترڅوله دې لاري خپلې جيو پوليتيکي ، اقتصادي ، پوځي ، کلتوري اومتمد نې اړيکې له يوبل سره شريکې اوکارنامې يې راتلونکو نسلونوته د ياد بود په توګه د تاريخ په حافظه کې په ميراث پاتې شي .

خودغه ډول راشه درشه کله دافغانانوپه ګټه تمامه شوې اوکله هم په سيمه ئيزواونړيوالوبحرانونوکې بنده پاتې شوې اود ناسموکورنيو سياستونو، خپلمنځې شخړواو بهرنيو مداخلوله امله د خپل هېواد ټول پوځي ، سياسي ، کلتوري اواقتصادي کورني سنګرونه ويجاړ، پلانونه ترې پاتې ، واک ترې پردی اوشوې لوبې ټولې په کې دافغانانوپه زيان پای ته رسيدلې دي . ځکه چې د وخت چارواکود افغانانواصلي اړتيا ووته ياخوپام نه دئ کړی او يا داچې ترملي ګټو يې د نورو په اشاره خپلوځانګړيوګټوته ترجيح او لومړيتوب ورکړې ، ملت هم د بې باوريوله امله سخت زړی شوی اوخپل مخ يې ترې اړولی ، د سيمي اونړی سياستوالوله همدې تشوڅخه په ګټې پورته کولوسره د تاريخ په هره مقطع کې پرافغانستان باندې د خپلې خوښې شرطونه منلې اوفزيکي اوغيرفزيکي زيانونه يې يوازې زموږ خاورې ، خپلواکيو، نظامونواوخلکوته وراوښتي دي ، خپله هم په کې غرق شوي او ملت يې هم په کې ډوب کړی دئ .

**داخوټولوته معلومه ده چې ملي ګټې ملي مد يريتونوته اړتيا لري ، ملي مد يريتونه په ملي کدرونوکې موندل کيږي ، اوملي کدرونه تل د خوداراد يته ولسونوله متن اوبطن څخه را ټوکيږي ، خوشرط په کې دادئ چې د ملي استعدادونو (I.Q.) بايد په سليقوي اود روابطو په محاصره کې ونه ځپل شي ، بلکې د انساني احسان له مخې بايد د قانون ترچترلاندې وده ورکړل شي اووغوړيږي ، ترڅود (A) کټګوری متفکرانه مغزونه په کې را لوی اوخپل هېواد د خپلو شتمنيو د سم مد يريت په صورت کې د رغنده پلانونواوسترا تيژيوپراساس د تمدن پرکاروان ورګډ کړي .**

موږ په خپل هېواد افغانستان کې داقتصادي زيربناووله پلوه ډېرې پټځمنې شتمنۍ لرو، خود را ايستلواو په کاراچولوله پاره يې د امکاناتود تارسرپرديو تپل شويو جګړو را څخه ګډود کړی دئ اونه پوهېږوچې زموږلومړيتوبونه څه اوله کومه اړخه د کوموشته امکاناتوپرمټ پيل ورباندې وکړو ؟

خويوه لارپه مخ کې لرو، اوهغه دا ؛ چې **موږ بايد لومړی د خپلې ريښتينولۍ په ثابتولوسره په توحيدي او باوري توګه د خپل ولس باورد ځان کړو. ورپسې په خورا بصيرت ، ردايت ، علمي او تجربتي اساس په پسته ، نرمه اوساده ژبه د خپلې پلان شوې ملي سترا تيژی له مخې هغه لومړيتوبونه په خپل پلان کې شامل کړو چې اجرائيي امکانات يې په لاس کې لرو . پيغمبرانو (ع) ، مخکينيوانسانانواو زموږ ځينو برياليو مشرانوهم داسې ـ او يا د ښه ورته کارونه کړي دي .**

**د بېلګې په توګه :**

نوح (ع) په خپل لاس د جوړې کړې بېړی پرمټ خپلودعوت شويوملګرواوورسره اړوندوحيواناتواونباتاتوته له مرګه نجات ورکړ.د مصرعزيزد يوسف (ع) د خوب په تعبيرسره مصراوورسره خواوشا سيمې د يوسفي اووه کلن عملي پلان اوروغ مد يريت له مخې وروستۍ اووه کلنه قحطي دزراعتي محصولاتورا ټولوپرمټ له منځه يووړه . حضرت عمر(رض) په غوڅه شرعي توګه يوداسې اقتصادي نظام جوړکړچې په ټوله دارالخلافه کې يې د زکات اخيستوڅوک نه پيدا کېدل اوپه عدالت چلولوکې يې خپل زوی هم له عُمَرِي دُروڅخه نجات پيدا نه کړ.

داوسني جاپان اوجرمني هېوادونه هم همدغه ډول جګړوځپلي وو لکه اوس چې موږ ځپل شوي يو، هغوی د خپلو نخبه ملي کدرونواوصادقوکاري ټېمونوپرمټ ځانونه ترمريخ پورې ورسول ، خوموږ اوس هم د غفلت د فيل په غوږ کې پرخوب بيده پاتې يو .

دافغان حاتم طائي پردغه ملي دسترخوان خود سيمې اونړۍ زاغان اوفيل مرغان هم دا څوکاله ماړه شول ، خوموږ په خپلوشتمنيوکې لوږ ، وږي ترې يو اوتل مو بل ته لاس نيولی . ترڅو به د ګدائۍ کچکول زموږ پرغاړه وي ، ترڅو به په نيمو شپواوټکنده غرموکې د پرد يوخلکو په دروازوکې ولاړاوخيرونه به غواړو؟ ولې به اوس موږ نوروته خيراتونه نه

ورکول . په داسي حال کي چي زمونږ د کورنيو شتمنيوښورروا ته خو آن له پخوا را هيسي پرديوسيمه ئيزواونوروخلکو پيازپه بډه وهلي دي .

دا ځکه چي دری کاله وړاندي زمونږ.خپلومتفکروخلاقانه مغزونو دمافيايي زوروا کوکړيوله لاسه له هېواد څخه بهرفرارکړی ؤ ، په ملي سرچينواوعائداتي خورجينوباندي ملي غلوګونډي وروهلي اويوازي خپلي خولي يي په کي ښخي کړی وي، خوله نېکه مرغه چي د افغانستان اوافغانانوهغه جګړوځپلی کوټه اوبيده بخت يوځل بيا راويښ شو، له ملي غلواومافياي کړيوڅخه يي ددوی حرفوي نقابونه ليري اوپرافغان شتمنيوباندي د مافيايي مفسدوکورنيواوبهرنيوښامارانو را تاوشوی کړی يي سره وشلولي ، د رکود دوره نوره پای ته ورسېدله او بيا رغونه د ملي مفکرينوله خوا د ملي تدارکاتو پراقتصادي پروسي اواقتصادي شارګونو رغولواوغځولوباندي پيل شوه .

دا چي زمونږ خبره پراقتصاد باندي سره را ټوله ده ، نو اړينه ده چي لومړی اقتصاد تعريف کړو .

**د اقتصاد تعريف :**

هرشی چي قانوني پولي ارزښت ولري ، هغه ته اقتصاد ويل کېږي .

خودا چي اقتصاد ، اوپه اقتنصاد کي عرضي اوتقاضأ ته ولي اړتيا ليدل کېږي ، لازمه ده چي لومړی د ملي اقتصادي نظام له پاره بازارته د خپلوکورنيو توليداتووړاندي کولوپه صورت کي د خلکواړتيا اوغوښتنوته په پام سره د اسلامي اصولو پر بنسټ ملي پلان اوستراتيژي جوړه شي . ځکه چي په اسلام کي اقتصادي زېربناوې بايد پرته له سود خوړلو ورغول شي . ځکه چي په حقيقت کي د الله (ج) او رسول الله (ص) سره د جګړې کولو د اعلان په معنا دی . نو ځوک چي د خدايتعالی ، او د خدايتعالی له رسول (ص) سره جګړې ته را وځي ، ترهغي بله ستره ګناه نه شته . د ملي پلان او سترا تيژی د پلي کولوياعملي کولوله پاره بايد يومسلکي ، متخصص اوکاري مديريت جوړشي ترڅواقتصادي پلان په منظمه توګه مطلب ته درسېدو پرخوا عملي کړي . خواقتصادي پلانونه له ټولوممکنه مشروع لاروڅخه د کاراخيستو په نتيجه عملي کېدای شي .

**د پلانونوجوړولواوپلي کولودور:**

د ملي تدارکاتوداقتصادي پلان ددغه مخکي جوړې شوې منظمي پروسي رسمي پرانسته د (۱۳۹۶) لمريزکال د وري په (۲۲مه) نېټه په کابل کي د ټولګټودوزيرمحمود بليغ اود آسيا د پراختيايي بانک د رئيس تام پنيلا له خوا د افغانستان د ټرانسپورټي سکتورد ماسترپلان له مخي وشوه .

دغه ماسترپلان له (۲۰۰۲ ) زيږديزکال څخه تر(۲۰۱۶ ) زيږديزکال پورې د مخه جوړشوی ؤاوپاتي وروستی برخه يي د همغه پلان ادامه ده چي له (۲۰۱۶) زيږديزکال څخه تر(۲۰۳۶) زيږديزکال پورې به ټول ترانسپوټي بنسټونه لکه واټونه ( جادې ) ، رېل پټلی ، ملکي هوايي ډګرونه ، ښاري ټرانسپورټ اونورې اړوندې ټرانسپورټي برخي د آسيا پراختيايي بانک په مرسته په کي ورغېږي .

په دغه ماسترپلان کي لومړی د حفظ ومراقبت چارې د جګي پانګي په لرلو سره په پام کي نيول شوې اوپه دوهم ګام کي به ددې پلان د عملي کېدو پربنسټ افغانستان د سيمه ئيزې اتصالي نقطي په توګه منځنی آسيا ، منځنی ختيځ اوچين له سوئلي آسيا سره وتړي ، افغانستان به د ترانزيتي اوسواګريزې څلورلارې په مرکز بدل اوزمونږ.هېواد به د ترانسپورټي ژمنتيااوآسيايي بانک له مرستوورکولوسره سم سترو پرمختيا وو، لاسته راوړنواو برياووته په چټکی سره لاس رسی پيدا کړي .

د دې ماسترپلان په لومړيتوبونوکي به د(۱۲۰۰۰) کليومتروپه کچه د واټونو ( جادو )، سيمه ئيزو، ملي اوولايتي سړکونو رغول شامل وي . خورېل پټلی به په ځانګړي ډول يوازې د افغانستان په خاوره کي رغول کېږي . د افغانستان د ټرانسپورټي سکتورله پاره مخکينی ماسترپلان (۸۰٪) رغول شوی ؤ اوپاتي (۲۰٪ ) به يي وروسته له دې ورغول شي .

افغانستان په (۲۰۰۴) زیږدیزکال کې له نړیوال تجارتي سازمان سره د یوځای کېدو پروسه پیل کړه . په (۲۰۰۹ ) زیږدیزکال کې یې دافغانستان د تجارتي رژیم هوکړه لیک لاس لیک کړ، د (۲۰۱۲) زیږدیزکال له جون څخه د (۲۰۱۴ ) زیږدیزکال ترفبروري میاشتې پورې یې د خپلوتجارتي مالونود لېږد رالېږد په اړه خبرې وکړې ، د (۲۰۱۵ ) زیږدیزکال د دسمبر په (۱۷مه) رسماً د ملګروملتود تجارتي سازمان رسمي غړی وپېژندل شو .

خوهغه کاري اود خبروافغاني ډله چې په دې ګروپ کې کارکوي ؛ د مالیې ، تجارت اولاسي صنائعو، د ترانسپورت ، ملکي اوهوایي چلند ، مخابراتواومعلوماتي تکنالوجۍ ، د کرهنې ـ اوبولګولواومالدارۍ ، اطلاعات اوفرهنګ ، عامې روغتیا ، د کانونواوپطرولیم اوعدلیې وزارتونه ، د افغانستان بانک ، د نورم اوستندرډ اداره ، د آیسا اداره ، پارلمان ، او د تجارت او صنائعوخونه په کې شامل دي چې له (۲۰۱۱) زیږدیزکال څخه تر(۲۰۱۵ ) زیږدیزکال پورې یې له نړیوال تجارتي سازمان سره څواړخیزې خبرې کړې دي . خودافغاني توکوله پاره د مارکېټ موندلو په برخه کې یې له کاناډا ، امریکا ، اروپایي اتحادیې ، ترکیې ، ناروې ، جاپان ، تایلنډ ، تایوان او جنوبي کوریا سره دوه اړخیزې خبرې کړې دي .

مارکېټ ته دلاس رسي په اړه د ګمرکي تعرفوفیصدي ، د تجارت نړیوال سازمان مارکېټ ته د خد ماتودلاس رسي په برخه کې د افغانستان د (۱۶۰ ) سکتورونو وړاندیزچې (۱۰۰) سکتوره یې یوازې د افغانستان خد مات دي او په انرژي اوپایپ لاین کې هېڅ ژمنه نه لري ، خود خدماتو وړاندې کولوپه ځرنګوالي کې به ډېره ګټه د افغانستان له بشري منابعو څخه اخیستل کېږي .

د (۲۰۱۶ ) زیږدیزکال د جون په (۳۱مه ) ( له نړیوال تجارتي سازمان سره د افغانستان تړلو ) لومړیتوب منظور، کابینې اوملي شورا تصویب ، جمهور رئیس توشیح او نړیوال تجارتي سازمان ته ولیږل شو .

## ځمکنۍ ترانزیتي لارې :

که څه هم په افغانستان کې امنیتي وضعیت په اوس وخت کې د ډاډ وړنه دئ خوبیا هم دولت په خپل ترانزیتي سیاست کې پرمختللي ګامونه پورته کړي ، ځکه چې د افغانستان هغه لویې لارې یې په هېواد کې د ننه ترخپلو بندرونو پورې رسولې چې له سیمې اونړۍ سره وصل دي ، د هېواد په داخل کې یې کلي او ښارونه سره تړلي او په زرګونوکیلومتره خام او پاخه سړکونه له جنګ جګړوسره سره جوړشوي چې پرمټ یې خلکواودولت دواړو ته خورا ډېرې اسانتیاوې پېرې برابرې کړې دي .

که څه هم دلویولاړواوسړکونو بیا رغونه د خصوصي سکتورله خوا پرمخ وړل شوې اود کار په کمیت اوکیفیت کې یې څه ستونزې شته ، چې دا ستونزې هم د ښاغلي کرزي صیب ددورې د ضعیف مدیریت میراث اود بهرنیو دونرانواوکورنیواوبهرنیو قراردادیانوترمنځ دخوردوبُرد پایله بلل شوې ده . خوپه ځینو برخوکې وسله وال مخلفین هم د سړکونود تخریبولواویا دباج اخیستو پرسردکارځنډولوسبب شوي .

د ځمکني ترانزیت دعوائدو په تړاو ډېرې ستونزې پخوا هم موجودې وې اواوس هم دا ستونزې لا پرځای پاتي دي ، ځکه چې د تراتنزیت له لارې د ګمرکي عوائدوټکس اومالیې اوس هم ددولت بوجې ته سمې نه انتقالېږي ، دا په دې معنا چې دغه ډول عوائد یاد اداري فساد له لارې شخصي جیبونوته لولېږي ، او یا هم دغه عوائد د وسله والومخالفینولاسته ورځي .

## د بېلګې توګه :

تاسو وګورئ چې د هرات ، حیرتانوکندهاراوننګرهارد ګمرکاتوټول عوائد نږدې یوه نیمه لسیزه د سیمه ئیزو ملوک الطوائفیو ، زوروا کواوچارواکو په لاس کې پراته وو، چې د هرګمرک د کلنیوعائداتوکچه د زرواونهه سوه مېلیون ډالرو په خواوشا کې اټکل شوې وه ، خو دولت ته یې یوه ټنګه هم نه ده سپارلې .

داچي د فرعي بې شمېره لاروڅومره ټکسونه به د زورواکود فساداومخالفینولاسته لوېدلي وي دهغوی کره رسمي شمېره زموږ په لاس کې نه شته ،خویوازې دومره ویلای شوچې په تېرو(١٧) کالوکې د ګمرکي عائداتودغه په میلیاردونوضائع شویوپیسو ددولت ملي بودجې ته ستره ضربه او تاوان رسولی دئ . څکه که ددغوګمرکي عائداتوسم او پرځای مدیریت شوی وای ، نن به د ملي عوائدود رامد له لارې زموږبانکونه هم پرته له پردیومرستوډ ک وای ، خوله نېکه مرغه چې له تېرودرېیوکالوراپه ایسته دترانزیتي عوائدولـه سرچینوڅخه د سیمه ئیزوچاروا کواوزوروا کودلاسونولنډولوملي پلان جوړاودملي عائداتوپرفساد ککړلاسونه يې له عائداتي سرچینورا وایستل .

تمه ده چې د همدې عائداتو له لارې تريوې کچې پورې زموږ اقتصاد وده وکړي ترڅواړيني اړتياوې پرې پوره شي .

**د افغانستان هوايي ترانزيت :**

افغانستان دا مهال د ټول هېواد په کچه په کابل ، کندهار، اود هرات په شینډنډ کې (۳) هوايي پوځي او (۳) نور په همدې یادو ولایتونوکې نړیوال ملکی هوايي ډګرونه لري ، څلورد کورني هوايي چلند هوايي ډګرونه لري ، او (۱۷) نورپه کې سیمه ئیز هوايي ډګرونه په مختلفوولایتونوکې موجود او فعال دي . چې ددې هوايي ډګرونو په واسطه افغانستان کولی شي هم خپل تولیدات د سیمې اونړۍ نوروهېوادوته انتقال کړي اوهم د خاک پولي اوګمرکي محصولاتو په نوم د افغانستان ملي عائدات را ټول کړي .

څکه اوس هغه پخوانۍ ستونزه هم تريوې کچې پورې حل شوې ده چې مخکې به پردي الوتکې په خپل سردهوا له لارې د افغانستان هوايي حريم ته دا خلېدلې ، چېرته به يې چې زړه غوښتل ، هلته به کښېناستلې اوبېرته به تللې ، چې موږ يې ښې بېلګې هرات اوفراه ته په خپل سرد قطرد شاهزادګانو، مشرقي سیمو ته د کوکنارو د عملیاتو په پلمه د روسانوڅارګرې ډلې ، جنوبي اومشرقي سیمو ته د پاکستان پوځي الوتکې ،غربي سیموته د ایران الوتکې راتلل اوبېرته تلل یا دولی شو.ولي اوس دا ستونزه تريوه بريده حل شوې ده ، څکه موږ اوس په افغانستان کې د رادارسیستم بېرته فعال کړی چې پرمټ يې موږ ټولې پردۍ الوتکې څارلی شو، پخوازموږ ټول رادارسیستمونه له منځه تللي وو،خواوس دا سیستم یوځل بیا فعال شوی چې پرمټ به يې هېڅ بهرني خپلسري پروازته د افغانستان په فضأيي حريم کې د خپلسروتلوراتلواجازه ورنه کړل شي .

خوددې په څنګ کې به نړیوال اوسیمه ئیزسیلانیان هم افغانستان ته په قانوني بڼه د هوا له لارې تګ را تګ کولی شي چې له دې سره به دافغانستان په کورنیوعائداتواوتولیدانوکې زیاتوالی راشي ، خلکوته به کارروزګارپیدا شي ، د سیمه ئیزوخلکود ژوند سطحه به په اقتصادي لحاظ ورسره لوړه شي ، د افغانستان ټولې لرغوني سیمې به له نړۍ سره د پېژندګلوی اواړیکوله مخې وصل شي ، دهېوادلوړې ژورې ـ اوپه کې شته افغانان به نړیوال وپېژني اوپردې به پوه شي چې د افغانستان هره سردره اوهره څمکه د مېلمستون شاهده ده . څکه افغانان وحشیان نه ـ بلکې متمدن او انسان دوسته خلک دي .

**د اوسپنې پټلی را منځته کولو اړتیا :**

له اقتصادي اوسیاسي پلوه له ګوښه کېدوڅخه دهېواد ژغورلواود اساسي قانون اوآزادو ټاکنوله مخې په سیمه اونړۍ کې افغانستان یوځل بیا خپل مقام د ځان کړ.

سره له دې چې د نړۍ د هېوادو، په تېره د سیمې د ګاوندیوهېوادواود سیمه ئیزواقتصادي همکاریو( اېکو، کرک ، سارک او شانګهای ) سازمانونوله خوا پاکستان اوافغانستان ته تاوانونه وراوښتي دئ ، خوبیا هم د ایکوغړوهېوادونود څواړخیزوهوکړه لیکونوپربنسټ دوربېښمودترانزیتي حیاتي لارې د بیا راژوندي کولوغوښتنه وکړه ، ترڅو پرمټ يې په نړیوال اوسیمه ئیزاقتصاد کې په لاندې ډول خپل اغېزمن سترا تېژیک رول اداء کړي دئ :

- د رېل پټلی جوړولوله پاره سارک سازمان شپږکریدورونه **( دهلېزونه )** د ترانزیتي مسیرله پاره داسي په نښه کړي او په رسمیت یې پېژني چې د افغانستان د ستراتیژیک اهمیت اوجغرافوي موقعیت له کبله د سارک د سازمان د رېل پټلی درې کوریدورونه **( دهلېزونه )** زموږ له هېواد څخه تېرېږي .
- **ددې سازمان (۳) لمبرکوریدوریا دهلېز:** دغه دهلېزد ایران د اوسپنې پټلی شبکه ده چې د هرات ولایت له لارې دهېواد شمالي ولایتونوته غځېږي اود مزارشریف درېل پټلی له حیرتانوبندرسره تړي . دغه کوریدوریا دهلېزد هېواد درېل پټلی د شبکې له تړل کېدوسره سم دازبکستان د رېل پټلی له شبکې سره د قزاقستان د هېواد له سیمه ئیزبندرسره تړل کېږي .
- **د سارک د سیمه ئیزوهمکاریوسازمان (۵) لمبرکوریدور(دهلېز) :** دغه اوسپنیزه رېل شبکه د پاکستان د رېل پټلی ده چې د تورخم اوجلال آباد له لارې د کابل ـ پروان ـ بامیانو ـ بغلان ، کندزاوشېرخان بندرله لارې د تاجکستان ، قرغېزستان اوچین له رېل پټلی سره تړل کېږي . خوپردې سربېره به د چین د ( ام سي سي ) کمپنی له خوا د شوي قرارداد له مخې ترعینک میسوکان پورې هم درېل دغه پټلی ورغول شي .
- **د سارک د سیمه ئیزوهمکاریوسازمان (۶) لمبرکوریدور( دهلېز) :** دغه کوریدور(دهلېز) په افغانستان کې دهرات ولایت د شمتېغ له سرحدي سیمې څخه افغانستان ته داخلېږي ، د شمالي ولایاتوله لارې د حیرتانوتربندرپورې غځېږي اود ازبکستان د رېل پټلی له شبکې سره نښلي. دغه کوریدور(دهلېز) په ازبکستان کې په دووښاخونوباندې وېشل کېږي ؛ چې یوښاخ یې د کسپین بحیرې دشمالي برخې څخه له اروپاسره وصلېږي اودوهم ښاخ یې د قزاقستان له هېواد څخه تېراوله مسکو سره وصل کېږي .

**افغانستان د نړۍ اوسیمې د هېوادو له پاره په وچه کې یو داسې هېواد دئ چې سترا تېژیک موقعیت یې سیمه او نړۍ د وچې او هوا له لارې سره تړلی اوسترو سمندري بندرونوته لنډې اوارزانه اقتصادي ترانزیتي لارې پرې موندلی شي چې هم به د افغانستان په گټه اوهم به د گاونډیانو، سیمې او نړۍ په گټه وي ، خود سیمه ئیزاونړیوال ترانزیتي څنځیردغه کړۍ د جګړواونا امنیوله کبله یوازې په افغانستان کې همداسې شلېدلی پاتې ده ، په داسې حال کې چې یوازې افغانستان دئ چې دغه ترانزیتي څنځیرد امنیت راتلوپه صورت کې سره تړلی شي .**

کله چې د ترانزیت دغه کړۍ سره وصل شي ، افغانستان به له دې لارې په کورد ننه ډېرکلنې عائدات ولري ، د افغانستان کورني تولیدات به په معیاري توگه وده ورسره وکړي اود سیمې اونړۍ مارکېټونوته به لارې پرې ومومي ، افغانان به ځانته دکارونوپیدا کولواود بې روزگاریود کچې را ټیټېدوترڅنگ توریزم ته په هېواد کې وده ورکړي اود افغانستان د تاریخي آبداتود لیدوله پاره به د سیمې اونړۍ دسیلانیانواودکورنیولاسي صنائعواوعائداتوشمېرزیات کړي . خپل تولیدات به له دې لارواو دهلېزونوڅخه د سیمې اونړۍ بازارونواومارکېټونوته انتقال کړي ، خوپه دې شرط چې په افغانستان کې د توریزم د ودې له پاره اطلاعات اوفرهنگ وزارت دمالیې ، ټولګټو ، دملکي اوهوا یې چلند وزارتونواوامنیتي ارگانونوپه ملاتړد خپلوتاریخي آبداتوراټولولو، رغولواوساتلوته په دوامداره ، مسلکي اوصادقانه توگه اوږه ورکړي ، د سیلانیانو پام ورته را واړوي ترڅوتوریزم هم د کورني درآمد له پاره د ملي اقتصاد ي پانگې یومدرک په کې جوړشي .

موږ دافغانستان په بدخشان ، پنجشېر، نورستان ، کنړ، لویه پکتیا، بامیانو، هلمند ، هرات ، کندهار، فراه ، زابل ،غور، جوزجان ، کابل ، ننگرهاراونوروسیموکې ډېرې ښکلي شنې د تفریح درې ، تاریخي ځایونه ، موزیمونه ، لرغوني کتیبې ، لرغوني آبدات ، زیارتونه ، جوماتونه ، لرغوني کلاگانې، منارونه ، تفریح ځایونه ، د تېروتمدنونونمونې ، د حماسواوشاهکاریوژوندۍ بېلگې ، موډلونه اوتصویرونه لرو چې ځینې یې په جگړوکې نړېدلي اوځینې دنړېدو، ورانېدواوورکېدوپه حال کې دي .

سیلانیان دهغولیدواوله هغونه دڅه زده کولواومعلوماتوراټولولوته لېواله دي . که اطلاعات اوفرهنگ وزارت یې په سمه توگه مدیریت وکړي پرته له شک څخه به دهېواد په اقتصاد کې رغنده رول ولوبوي خلکو ته به کارروزگارپه کې پیداشي اودلاسي صنائعوصنعت اوبازارموندنه به نوره وده هم په کې وکړي .

دا چې د بشري ژوند حالت تل د زده کړو، پوهېدواوتجربوي مهارتونو په زياتولوسره په کيفي لحاظ وده کوي ، ځوا نېږي اود اکمال اوپخېدوتروروستي مرحلې پورې ځان رسوي ، نود ستروصنعتي انقلابونواو بدلونونو منځته راوړوځواک هم په کې شته .

ددې له پاره چې توريزم په افغانستان کې وده وکړي ،لازمه ده چې د ټولګټواوهوايي چلند وزارتونه هم په دې برخه کې خپل رغنده رول دځمکې اوهوالـه لارې اداءکړي . سيلانيان اوګرځندوی اړوندوولايتونواوسيموته د تلو راتلو لـه پاره ځمکنيواوهوايي خوندي لاروته اړتيا لري ، خو همدغه ځمکنی پخې لارې او پاخه هوايي ډګرونه په اصل کې زموږ د هېواد ځمکني اوهوايي اقتصادي شارګونه هم دي چې په خورا آسانی سره دځمکنيواوهوايي چلند لـه ګمرکاتوڅخه زموږپه ملي پانګه کې زياتوالي پرې راتلای شي . ځکه د خوندې اوپخولاروواوهوايي ډګرونوشتون زموږد هېوادوالواودولت ددرامدلـه پاره يوه بلـه ستره وسيله ده چې پرمټ يې خپل محصولات د ځمکې اوهوا لـه لارې نوروسيمواونړی ته انتقالولی اوهم د سيلانيانو د تګ راتګ له پاره آسانتياوې پرې برابرولای شو.

**تولید ، صنعت ، اقتصاد او توریزم :**

د يادولو ده چې لومړی زموږ صنعتي تيت پرک خوځښتونه سره را ټول او وروسته د ټولنيزجوړښت اوولسي ملاتړپرمټ پرته له سيمه ئيزوحساسيتونورا پارولوڅخه د بازارموند نی لـه پاره په کمي اوکيفي لحاظ دخپلي اقتصادي پراختيا د ودې مفاهيم بايد په لاندې ډول په کې را نغښتي وي :

**لومړی :ـ** زموږ په صنعتي اواقتصادي توليد کې بايد په مقائسه وي توګه داسې مثبت بدلون راوستل شي چې د تېرکال په پرتله په کې ښکاره او د ارزښت وړتوپيروليدل شي ، ترڅو د لنډ مهال ، منځ مهال اواوږد مهال لـه پاره د يوه منظم پلان اولارنقشې له مخې دغه توليدي وده په کمي اوکيفي لحاظ خپل سعودي ګرافونه په محسوسه توګه طی کړي .

**دوهم : ـ** خپلوټولنيزوظرفيتونوته په پام سره بايد په لوړه کچه زموږ بشري اوفزيکي بې سرحده اړخونـه پـه پراخـه پيمانـه د توليد وړتيا په ځان کې پيدا کړي ، ترڅوموږددغه ډول اقتصادي پراختيا پرمټ خپلوموخو ته پرې ورسېږو .

**دريېم : ـ** توليد څنګه زياتېږي ؟

- توليد بايد ديوې ملي پروسې ترچترلاندې پرخپلولاسته راوړنوباندې داسې پيل وکړي چې ترډېره په کې صنعتي برخه اولړه په کې کرنيزه برخه ونډه ولري .
- د بشري ځواک په دغه ډول توليد کې بايد ښاري خلک ډېراوکليوالي خلک په کې کم وي ، ځکه چې ښاري خلک ترکليوالي خلکوپه صنعتي وده کې په کمي اوکيفي لحاظ غښتلي اود ډېروتجربوخاوندان وي ، اوبل دا چې د ښاري صنعت دود به له ښارونوڅخه په خورا آسانی سره کليوالي سيمو ته ورانتقال اودغه فرهنګ به عامه ښه خپلـه کړي .
- ټولنه به ورسره هوسا او بسيا شي او په ليرې برتو سيمو کې به هم د خلکو په شتمنيو کې زياتوالی راشي .
- د خلکوکارروزګاربه ورسره زيات او د بې کاری کچه به ترممکنه بريده ورسره را ټيټه شي .

خوزموږ هېواد له نورو پرمختللوهېواد وسره د توليد په برخه کې زيات توپيرلري ، ځکه په پرمختللوهېوادوکې ددغه ډول توليداتواوصنائعوپه را منځته کولوسره د خلکوپه ژوندکي سوکالي اود استقرائي پرمختګ او خلاقيت امکانات را منځته کېږي ، استعدادوته د خپلو ذوقونوسره سمه وده ورکول کېږي ، حکومتونه يې ورته د تشويق او ودې له پاره رغنده برنا مې اود مکافاتو پروګرامونه جوړولای شي ، خوزموږ په جګړوځپلي هېواد کې که پـه دغه ډول ګوډ اومات توليد سره په متوازنه اوعادلانه توګه د شته فقرلمن ترېوې کچې پورې ورټوله شي هم غټه خبره ده .

**موخه :**

په افغانستان کې اقتصادي سیستم رغول زموږ له اصلي موخوڅخه یودئ چې باید په لاندې اساسي توګه پاملرنه ورته وشي :

موږڅنګه په عادلانه توګه په خپل هېواد کې فقرله منځه وړلای شو ؟

د پوښتنې ځواب معلوم دي ، هغه دا چې موږ باید لومړی خپل ټول ملي عاېدات و سنجووچې موږ په کورد ننه څومره ملي عائدات لرو،څومره له بهره ترلاسه کوواوڅومره موپخوا لرل . ورپسې باید داټول سره جمع اوبیا یې دافغانستان پرنفوس باندې ووېشو، ترڅوسړي سرعائد موږته څرګند شي . بیاخپله همدغه سړي سرکچه د نورو پرمختللو هېوادوسره پرتله کړو، ترڅورا ته څرګنده شي چې موږله نورې پرمختللې نړۍ سره له اقتصادي پلوه په کومه کته ګورۍ کې واقع یو؟ وروسته له هغې باید په خپلو اقتصادي لاسته راوړنو د ملي سترا تېژیوپرمټ د خپل ملي پلان له مخې پیل وکړو ، ترڅوهېواد اوهېواد وال مو خود کفأ او په خپلو پښو ودرېږي .

**پایله :**

کله چې موږته په خپل کورکې دننه اوپه مقائسوي توګه له نورې پرمختللې نړۍ سره زموږسړي سراصلي عائدات په ډاګه شي ، وروسته له هغې بیا موږکولی شوچې په خپل هېوادکې فقرځپلې برخې په میتودیک اوسیستماتیک شکل لومړی و پېژنو، په نښه یې کړواوبیایې په له منځه وړوکې په عادلانه توګه لاس په کارشو، د افغانستان په ځمکنیواو هوایي اقتصادي شارګونو رغولوباندې پیل وکړو، ترڅوپه ټول هېواد کې اقتصادي بسیاینه ګام په ګام دفقرځای ونیسي، بېکارۍ اوبې روزګارۍ دکارله امله له منځه ولاړه شي ، د پردیو وارداتوفرهنګ په کورنیوتولیداتواوصادراتوبدل شي اوهېوادوال په کورد ننه د نېستۍ له مزمنې ناروغۍ څخه د ریښتینومدیریتونوپه رغنده لارښوونواو کړنو سره دغه جګړوځپلی سټرۍ هېواد اوهېواد وال له خپلو ټولوارمانونوپوره کېدوسره تلپاتې ډاډمنو برياووته ورسوي .

ادامه لري